DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

مونږ په هېواد کې ټولنیز عدالت او تل پاتې سوله غواړو

شماره : ۹

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ . ش

PROPERTY OF ACKU

سال هفتم - دور دوم - شمارهٔ نهم - شمارهٔ مسلسل ۱۰۳۳ - چهار شنبه ۲۸ سنبله ۱۳۸۶ ، ۷ رمضان المبارک ۱۴۲۸ ، 19 September, 2007

افغانستان د نا ټو له پاره یو ازمایښت دی

ټرون له غړو نه وغوښتل چې د خپلو عسکرو سمبالولو ته پا ملرنه وکړي او خپل عسکر اپینو سیمو ته ولیږي

که په افغانستان کې ناټو پریالی نه شي د دغه ټرون له پاره به ستر شرم وي دغه ټکی د امریک د متحده ایالاتو د دفاع وزیر رابرګیټس پرون په ویرجینا کې د خپلې وینا په ترڅ کې څرګند کړی دی . ده وویل چې افغانستان د نا ټو له پاره یو از مایښت دی او که دغه ټرون ونه شو کولای د دموکراسی بنسټ کښږدي دغه ټرون ته به ستر شرم وي . ده د

تلاشها جهت انزوای بیشتر ایران

امریکا با هدف تحت فشار قرار دادن ایران، پروسهٔ انزوای اقتصادی تهران را پیش روی خود نهاده تا با این کار ضمن ضعیف کردن سیستم بانکداری ایران، به رغم خود برنامهٔ هسته یی تهران را نیز متوقف کند.

روزنامهٔ دیلی تلگراف در شمارهٔ دیروز خود به تحلیل رویارویی اقتصادی امریکا و ایران ص۴

بریتانیا به حفظ بمب خوشه یی متهم شد

دولت بریتانیا متهم شده است که با وجود پیشنهاد منع کاربرد بمب خوشه یی در صدد است این اسلحه را در زرادخان خود حفظ کند.

چند سازمان بین المللی دفاع از حقوق بشر، از جمله سازمان حقوق بشر، اگسفام، ص۴

گاردین: 'اوضاع از کنترول خارج می شود'

جولیان برگر مسوول اخبار دیپلماتیک روزنامهٔ گاردین و آنجلیک کربسافیس خبرنگار این روزنامه در پاریس، به اظهارات روز دوشنبهٔ محمد البرادعی مدیرکل آژانس بین المللی انرژی اتومی پرداخته اند که در مورد بالاگرفتن احتمال جنگ با ایران هوشدار داده بود و در این مقاله به بررسی چالش های پیش روی آقای البرادعی پرداخته اند.گاردین برای این مقاله از این عنوان خبری استفاده کرده است :"سازمان ملل متحد اعلان کرده جریان متمایل به جنگ با ایران به تدریج از کنترول خارج می شود."نگرانی های محمد البرادعیگاردین در این مقاله ابتدا از قول یک مقام رسمی در سازمان ملل متحد می نویسد محمد البرادعی دلیلی استراتیژیک برای تبلیغ علیه جنگ دارد. این مقام ادامه می دهد :"آقای البرادعی واقعاً نگران است و می بیند که اوضاع به تدریج از کنترول خارج می شود. اینجا همه احساس می کنند که اوضاع شبیه زمان پیش از آغاز جنگ با عراق شده است."

گاردین که به بالاگرفتن فشار از سوی فرانسه

علیه ایران اشاره کرده، خبر می دهد که امریکا از مقام های ارشد اروپایی و روسی خواسته که روز جمعه ۲۱ سپتمبر در واشنگتن گردهم آیند تا در مورد "عمیق تر شدن بحران ایران" گفتگو کنند.

فروش جت های بریتانیا به عربستان

عربستان سعودی می گوید با خرید ۷۲ فروند جت جنگنده "تایفون یوروفایتر" از بریتانیا موافقت کرده است.خرید این جت ها، بخشی از یک معاملهٔ ۴۰ میلیارد دالری با شرکت بریتانیایی BAE، است که یکی از بزرگترین شرکت های صنایع دفاعی بریتانیاست.

هنگامیکه سال گذشته تونی بلیر، نخست وزیر وقت بریتانیا، دستور منتفی شدن تحقیقاتی را داد که دربارهٔ اتهام در ارتباط با یک معاملهٔ تسلیحاتی دیگر با عربستان سعودی بود، گزارش هایی انتشار یافت مبنی بر این که دولت عربستان سعودی تهدید کرده در صورت ادامهٔ تحقیقات، از خرید جت های یوروفایتر، منصرف خواهد شد.تونی بلیر، گفته بود که ممکن است تحقیقات مورد بحث، به منافع ملی بریتانیا صدمه زند.

خبرنگار رادیو فردا از ایران خارج شد

پرناز(نازی) عظیما، خبرنگار رادیو فردا که پس از سفر به ایران به اتهام "تبلیغ علیه نظام" ممنوع الخروج شده بود، سرانجام اجازه یافت که از این کشور خارج شود و موفق شد ایران را ترک گوید.

وی در حالی از ایران خارج شده که دوسیه یی که در محکمهٔ انقلاب تهران علیه او گشوده شده همچنان باز است و برای اینکه برای محاکمه به ایران بازگردد، وثیقه یی به ارزش پنجصد و ده میلیون تومان از او اخذ شده است.

هرچند به گفتهٔ وکیل خانم عظیما، هنوز تاریخی برای محاکمهٔ او تعیین نشده است. رییس رادیو آزادی (مستقر در جمهوری چک) که رادیو فردا بخشی از تشکیلات آن است، ضمن استقبال از دادن اجازهٔ خروج به خانم عظیما، از اینکه اتهامهای وارده بر او همچنان باقی است، ابراز نگرانی کرده است.

له طالبانو سره جوړه د ټولې نړۍ په ګټه ده

د ارادې ورځپاڼې قدرمنو لوستونکو! خبرو اترو ته د طالبانو د چمتو کیدو د مرکو په لړ کې چې تاسې ته په تیرو ګڼو کې خپرې شوې په دې ګڼه کې مو په ولسی جرګه کې د ننګرهار د خلکو له استازي ښاغلي سید محمد هاشم فولاد سره په دې اړوند مرکه کړې ده، چې ستاسو خدمت ته یې وړاندې کوو.

په لومړي سر کې مو له هغه څخه پوښتې، چې دوی له دولت سره د خبرو اترو له پاره د طالبانو چمتو کیدل او لدې خبرو اترو څخه د امریکا او ملګرو ملتونو ملاتړ څنګه ارزوي هغه په ځواب کې وویل:

دا منم چې سوله راوستل د نړیوالو کنوانسیونونو یا د نړیوالې ټولنې مسوولیت دی. خو د سولې ساتل او ټینګول د ملتونو اوټولنو دنده ده په ټول نړۍ کې یو اصل منل شویدی. چې د سرتیرو، جنګي الوتکو او

بمبونو په زور د مخربو کسانو مخه نیول کیږي خو سوله ۲ مخ

له طالبانو سره د خبرو مخالفین ملي خائنان دي

د ولسي جرګې غړی عالم ګل کوچی:

درنو لوستونکو! تاسو ته معلومه ده چې یو شمیر هغه کسان چې د دولت په کابینه کې ځای لري ، له طالبانو سره د روغې جوړې او په دې اړه د افغان ولسمشر له هغه وړاندیز سره مخالفت څرګندوي چې څو ورځې وړاندې یې اسلامي حزب او د طالبانو د تحریک غړو ته د خبرو بلنه ورکړې وه. مونږ په دې اړه چې ایا

له دغه وړاندیز سره مخالفت د ولسمشر له امر څخه سر غړونه ده او که نه، او دغه راز هغه څوک چې د افغانستان د خلکو د هیلو پر خلاف عمل کوي او له ۴ مخ

راه حل مشکلات نوجوانان

انسان درمراحل مختلف زنده گی با یک سلسله مشکلات و نابسامانی ها روبرو وپنجه نرم مینماید . که یکی ازاین مراحل، دورهٔ نوجوانی وجوانی انسان است . درین مرحله انسان ازناحیهٔ شمار ی نابسامانی ها رنج میبرد که البته این مشکلات ونابسامانی ها ویژهٔ نوجوانان وجوانان میباشد . ما درینجا با استفاده از منابع مهم علمی راهنمایی ها و راه های مناسبی را درزمینه جستجو وترتیب نموده ایم که

اینک خدمت تا ن تقدیم میگردد.

.درقدم اول هفده مورد یکه والدین برای مقابله ص۳

ښوونځي د زندانونو دروازې ټړي

په ښوونې او ښې روزنې انساني ژوند عیارول د زیاتو نابرابریو په وړاندې غلبه پیداکوي او ژوند د حوادثو نه ژغورل کیږي. که د جنګ په دریوو لسیزو کې په افغاني ټولنو باندې د ښوونځیو دروازې ټرپل شوې وي نو نتیجه یې دا شوه چې دوی د پوهې پر ځای فساد ته مخه وکړه او د خپل ژوند انه خوندوری او ګټوري لحظې یې په ډیرو زیاتو تر خو معاملو او بدو چارو کې له لاسه ورکړې چې نن د زندان تورو خونو ته لویدلي او د خلاصون د لارو چارو په لټه کې له زیاتو عذابونو سره مخامخ شوې دي. که د جنګ په خطر ناکو شیبو کې مو بیا هم د خپلو ټولو بچیانو د ښوونې او روزنې چارې د لاس

لاندې نیولې وي نو دومره بدمرغي به ترینه نه ولاړې شوي نه وای او ژوند ۴ مخ

له مخالفینوسره خبرې اوتفاهم

کله چې ددولت اومخالفینوترمنځ اختلافونه زیات شول ،ساړه جنګونه په تودوجنګونوبدل شول اودهېواد په ګوټ ګوټ کې ورځ په ورځ سوله او ارامي له خطر سره مخامخ شوه ، نود کورنیواوبهرنیوله خولې داګنګوسی ترغوږ شو چې ددولتي چارواکواوطالبانوترمنځ خبرې کېږي اواختلافونه دټوپک په خوله نه بلکې دسولې اوتفاهم له لارې حل کېږي. په پای کې خبره له شف شف څخه شفتالو ته راووته هم ددولتي چارواکو اوهم دطالبانو له خوا واوربدل شول چې اختلافات دې دتفاهم له لارې حل شي او دواړوخواوو سینې ودربولې چې نوربه له قیداوشرط پرته دخبرو دمېزترشاکښېنې.

زمونږ هرهېوادوال ددې خبر داوریدو هرکلي وکړ. دیواوبل له خولې اوریدل

کېږي چې مخالفین وایي « مونږپه دې شرط خبرواوتفاهم ته چمتو ۴ مخ

СХЭА

ACKU

بنوونځي د ...

به هم په نور ماله توګه د پرمختګ مسير ته دوام ورکړی و او د سوچ او اند نه به يې په زياته اندازه کار اخيستی وای خو دا چې په دغو شل ديرشو کلونو کې بيا هم پر افغانانو باندې ټولې لارې بندې وې نو د بنوونځيو د زده کړې نه په عمومي توګه بې برخې پاتې شول او په راز راز دندو باندې بوخت او مشغول پاتې شول چې انسانيت هم ترينه مخه وکړه او د ظلمت په څلور لارې کې دتل له پاره د روښانه بصيرت نه هم بې برخې شوّل.

د بن د کنفرانس له پريکړو سره سم چې کله اسلامي جمهوري دولت په هلو ځلو پيل کړی نو د هيواد د بچيانو د تعليم موضوع ته زياته پاملرنه هم وارول شوه په هر ځای کې چې بنوونځی سوزيدلي له سر نه يې د بيا ابادی چارې تر لاس لاندې ونيول شوی او په کوم ځای کې چې بنوونځی نه و چې همدغه اوس له سر نه يې د بيا ابادی چارې تر لاس لاندې ونيول شوې په خو تيرو ورځو کې د ارزګان په ولايت کې د يو عالي دارلمعلمين او يو عالي دارلعلوم او د کرنې د ليسې په څنګ کې د څلويښتو بنوونځيو د جوړولو پروتوکول له خصوصي پانګوالو سره لاس ليک شوی چې په لنډ وخت کې به دابادی لاندې ونيول شي او هغه ستونزې چې په تيرو وختونو کې د دغو سيمو بچيانوته متوجه وې هغه به ډير زر اوارې او له منځه يورې شي او ددې ځای زده کوونکې به په ډاډه زړه خپلو ورځنيو لوستونو ته دوام ورکوي کوم شی چې د لوست په چارو کې ددوی له پاره ورځينې خنډ ګرځيدلی هغه د کتابونو او بنوونکو د کمبود موضوع ده که چيرې د بنوونې او روزنې وزارت د کتابونو د چاپولو او د بنوونکو د شميرنې سره سم معيار ته ځانګړې پاملرنه راوګرځوي او د زده کوونکو په شمير باندې کتابونه تر چاپ لاندې ونيسي او د دې په څنګ کې د پوهنې وزير د بنوونکو ستونزه ډکه کړي او د زده کوونکو له پاره درسي وسيلې او ميتودونه په نظر کې ونيسي نو بيا به دهيواد ټولو بچيانو له خپل وخت څخه په زړه پورې ګټې تر لاسه کړي وي او د وخت د غوښتنې له اساساتو سره به يې ځانونه په عمومي توګه هم اشنا کړي وي همدغه وخت دی چې د وخت قدر وشي او له وخت نه اعظمي ګټې تر لاسه شي، تر څو دوی په دې وتوانيږي چې د پوهې له لارې نه خپل ژوند پر پښو ودروي او دهيواد راتلونکي په خپلو ږنو اندونو باندې لکه څنګه چې نبايي په پښو ودروي او د خپلې بسيا ټولنې له پاره لا نور هم د کار په فکر کې شي او له هر راز بدمرغيو نه يې په څنګ و ساتي.

په دې برخه کې چې هر څومره له هلو ځلو نه بهرنيو ځواکونو د وتلو له پاره يوه نېټه معلومه کړي، چې دا کار نه يوازې د افغانانو بلکې د ائتلافي ځواکونو په ګټه هم دی ځکه اوس د افغانستان له ملت سره دا سوال دی، چې بهرني ځواکونه د څه له پاره او تر کومې نېټې پورې غواړي، چې زمونږ په هيواد کې و اوسي او بالاخره زمونږ او دوی راتلونکي به څه وي؟

۳- بله خبره دا ده چې د کرزي صيب حکومت يو مصلحتي حکومت دی او هغه څوک په دې حکومت کې راټول شوي، چې ډيری يې د افغان ولس دښمن دي او هيڅکله هم ملت پر دوی باندې باور نشي کولای، دوی يو ځل افغانستان پر روسانو و پلورله او دوه ميليونه افغانان يې په شهادت ورسول او بيا يې يو شمير ديوبهرنيو هيوادونو په پيسو، مرسټو اوزورله يوشميرنورو بډنامو ګوندونو سره ائتلافونه جوړ کړل او بالاخره د حکومت په واک کې يې هم ځانونه ورګډ کړل، زمونږ غوښتنه له دولت څخه دا ده، چې دغه خلک دې له واک څخه لرې کړي او کنه ملت به هيڅ کله هم پر دولت بار پيدا نه کړي.

۴-د دې تر څنګ بايد دولت په خپلو ادارو کې فساد له منځه يوسي او د خپلو خلکو اعمال سم کړي.

تاسو ټولو ته معلومه ده، چې په دولت کې اداري فساد لوړې کچې ته رسيدلی او د روانو نا امنيو يو ستر لامل همدا اداري فسادونه دي. که دولت په رښتيا غواړي، چې پر ځان د خلکو باور زيات کړي نو بايد خپل ټول واليان او امنيه قوماندان داسې کسان وټاکي، چې په واقعي معنی پاک، متدين او مسلمان وي او دغه رازد کابينې وزيران بايد ډير پاک او داسې کسان وټاکي، چې يوازې د افغانستان او اسلام ګټو ته وفا دار وي، نه دا چې د خپلو شخصي ګټو له پاره د پردیو له پاره کار وکړي.

له طالبانو سره د خبرو ...

خپلو څوکيو څخه ناوړه ګټه پورته کوي ملي خائنان ګټل کيږي او که څنګه؟ دې او دې ته د ورته پوښتنو په اړه مو په ولسي جرګه کې د کوچيانو د استازي حاجي علم ګل کوچي نظر ترلاسه کړی ،تاسو يې لوستلوته رابولو.

پ. کوچي صيب! د افغانستان د روان کړکيچ په پام کې نيولو سره تاسو له دولت سره د خبرو له پاره د طالبانو د چمتو والي په اړه څه نظر لرئ ؟ او ستاسو په اند دغه خبرې به څومره بريالی تر سره شي؟

ځ. په دې ټول افغانان او ان ټوله نړۍ پوهيدلې ده چې د افغانستان خلک او د افغانستان جغرافيايي جوړښت داسې دي چې د تاريخ په اوږدو کې يې د هيڅ توان او هيڅ زور په مقابل کې سر نه دی ټيټ کړی او نه يې ټيټوي، نو په دې اساس ما خو، خو ځلې ولسمشر او ولسي جرګې ته دا وړاندیز کړی چې د افغانستان د روان کړکيچ د حل له پاره له مخالفينو سره خبرې وکړي ، له هغوی سره د خبرو له لارې خپلې ستونزې حل کړي او د دغو ستونزو حل د زور له لارې منځته نه راځي او زه د دغه احتمالي خبرو هر کلی کوم زما په اند دولت بايد څلور ټکي په پام کې ونيسي تر څو دولت د خلکو له پاره د باور وړ وګرځي.

۱- دولت بايد له خپلو ټولو مخالفينو سره په صادقانه ډول، د خبرو او سولې لاره غوره کړي نه دا چې يوازې تبليغاتي او نمايشي بڼه ولري او په دې پوه شي، چې د ځواکونو او پوځي مرستو له لارې دغه مشکل نشي حل کيدای.

۲- دولت بايد په افغانستان کې د مبشتو کار اخيستل کيږي په همغه اندازه به يې ګټه هم زياته وي او هيواد ته به ډ لا زياتې پوهې د تعميم او انکشاف لاملونه برابر کړي وي او افغاني ژوند به يې د پوهو بچيانو په درلودلو سره د هر راز تيروتنو نه مصئون ساتلی وي . چې بيا به فساد او ټول ناوړه حرکتونه د هيواد نه مخه وکړي او په دې توګه به د پوهنې او تعليم له برکت نه د بنوونځيو په ورځني شمير کې زياتوالی راغلی وي او د زندانونو د روازې به د تل له پاره تړلې پاتې وي

منت بار

له مخالفينو سره ...

يو چې لومړی ټول بهرني ځواکونه له هيواد څخه ووځي اوبيا په اساسي قانون کې يولړ بدلونونه راوستل شي »داچې دواړه خواوې ترکومه حده په دې برخه کې سره نږدې دي اويوه خوله شي ؟ دې خبرې ته به راتلونکي خواب ووايي . خوزمونږ ټول هيوادوال په دې باوردي هغه غوټه چې چې په لاس خلاصيدای شي په خوله باندې يې خلاصول بنه کارنه دی . سمه ده چې اختلافونه په هرکوراوهرکلي ، هره سيمه او هر هيواد کې شته خو که اختلافونه دوژنو، ورانيو ، نيولو ، بنديانولو ، تښتولو او نورو کارونو دسرته رسولو سبب کيږي بيا نو دا تمه له هيڅا څخه نه شي کيدای چې هيواد دهيوادوالو ته دخدمت جوګه شي . مونږ داسې انګيرو چې دهيواد وداني او دهيواد وال ارامي دهر چا يو ازينی هيله او ارزو ده او هر څوک سولې او امنيت ته سخته اړتيا ځکه لرې چې هيڅ ډول ورځني کارونه له سولې او ارامی پرته سرته نه شي رسيدلی . هر ډول اختلافونه او هر ډول جګړې په پای کې دخبرو او تفاهم په وسيله دحل يوه لاره مومي جګړه او اختلاف ګټونکي نه لري او څوک بايد داسې ونه انګيري چې جګړه به زه ګټم او په زور او جبر به حکومت کوم او په خلکو به چپه ميچنې ګرځو په زور کلی نه شي کيدای



له دې پرته د اختلاف فکر له دې نه پيدا کيږي چې يو لوری انګيري چې تربل لوری ، هيواد او هيوادولوته بنه خدمت کولی شي ، که هر لوری هيواد ورانوي او هيوادوال به يو او بل نوم وژنې نو د هيواد والو او نړۍ والو د کرکې او نفرت له راپارولو څخه پرته بله ګټه نه شي ترلاسه کولی . په نړۍ کې هم ډيرې لږې ډلې دبرچې په زور دقدرت ګدۍ ته ځان رسول غواړي ، دډيرو هيوادونو ټول اوسيدونکي دهيواد او هيوادوالو په ګټه د رغنده کارونو له لارې له يو بل سره رقابت او سيالي کوي او په دې ډول دهيوادوالو په زړونو کې ځای نيسي هر چا چې داکار کړ ، ميدان ګټې دزور او برچې په څوکه څوک دچا په زړه کې ځای نه شي نيولی ، بنه دا ده چې برچې او توپکونه لرې وغورځول شي دسولې ، خبرو او تفاهم له لارې دجبرې مشورې سر پيدا شي هم خپلې او هم دنورو وينې تويې نه کړي هر څوک هڅه وکړي چې دسولې ، خبرو او تفاهم نوښت په کار واچوي

متين خوګيانی

تلاش جهت ...

پرداخته و نوشت : امريکا قدم به قدم با وادار کردن اروپا و جاپان به قطع تمام مناسبات تجارتی خود با ايران، سعی دارد تا تهران را در يک تنګنای اقتصادی قرار داده و سرانجام ايران را از عرصهٔ تجارت بين المللی کنار بگذارد.به نوشتهٔ همين روزنامه، دراين ميان وظيفهٔ اصلی برعهدهٔ بانک های جاپانی و اروپايی است که با قطع روابط خود با ايران، امريکا را در اين جنګ اقتصادی ياری کنند؛ بر همين اساس "دوچ بانک" آخرين بانک اروپايی بود که روابط خود با تمام افراد حقيقی و حقوقی ايرانی را قطع کرد، هر چند اين اقدام دوچ بانک، زيانهای زيادی را برای اين بانک که مناسبات و درآمدهای عمدهٔ خود را از طريق معامله های نفتی کسب می کرد به همراه داشته اما با وجود اين امريکا همچنان بر وارد کردن فشار بر بانک های اروپايی ادامه می دهد.

بريتانيا به حفظ ...

عفو بين الملل و گروه اقدام عليه کاربرد مين، در گزارش مشترک خود گفته اند که دولت بريتانيا در نظر دارد پس از امضای احتمالی پيمان منع استفاده از بمب های خوشه يی در سال آينده، دو نوع بمب خوشه يی را همچنان در اختيار ارتش خود قرار دهد.

ترمنځ پر روغه جوړه څومره بده غيزه وکولای شي؟

ځ دا په ولسمشر پورې اړه لري، چې دی څومره کولای شي، چې د دوی غوښتنو ته تسليم نشي او څومره کولای شي، چې د ملت له غوښتنو سره سم له طالبانو سره روغه جوړه وکړي خو دومره ويلای شم، چې که ولسمشر غواړي، چې په رښتيا هم د ملت غوښتنې پوره کړي او د ملت غوښتنې ومني نو د ده په مقابل کې هغه خلک هيڅ نشي کولای، چې نن د دولت له کابينې څخه او يا د کوم بل دولتي پست څخه خپل غږ پورته کوي او له سولې سره مخالفت ښيي او زما په اند ولسمشر بايد په دې برخه کې ټينګ ګامونه پورته کړي او د ملت د دښمنانو خبرو ته غوږ و نه نيسي او دغه راز ولسمشر بايد په دې پوه شي، چې د دا ډول خلکو په ملګرتيا کې هيڅ ګټه نشته، که ګټه وای نو دا ټبر شپږ کاله يې ښه واک ورکړی و، خو هيڅ خير يې ولسمشر ته و نه رسيد نو غوښتنه مې له ولسمشر څخه دا ده، چې له طالبانو سره د خبرو وړاندیز، چې اوس د طالبانو له خوا چمتوالی ورته څرګند شوی دی بايد په دې نور کار هم وکړي او دا خبرې دې په ټپه نه دروي، چې خدای مه کړه که دغه خبرې تر سره نشي او دا موقع له لاسه ووځي نو بيا به داسې وخت راشي، چې د داسې موقع پيدا کول به هم شونې نه وي.

او داد ټول ملت رښتينې هيله ده، چې بايد له مخالفينو سره سوله وشي

او زما يو ځل بيا له دواړو لوريو څخه غوښتنه دا ده، چې نور دې د پردیو په ګټو کې خپلې ګټې نه لټوي او د خدای له پاره دې د يو رښتينې خپلواک، مسلمان او سر لوړي افغانستان له پاره کار وکړي.

سيدالرحمن سالار